داکتر عبدالحی نیازی ۲۶/۱۱/۲۰۰۷

# د سیا سی مبارزې په ډګر کې د پلورالیزم رعایت

سیا سی پلورالیزم یعني په ټولنه کي د بیلابیلو سیاسی افکار په وړاندي د زغم او تحمل ظرفیت درلودل دی او د ملی ګټو په اساس د بیلابیلو ډلو سره په ټولنه کي په سیاسی او ټولنیزو چارو مشارکت دی. بی له شکه پلورالیزم د مدرن دیموکراسی یوه ټولنیز اصل ده. نیوپلورالیزم معتقده ده چي نباید ټولنه یواځي د نخبه ګانو او الکتوریت ( ټاکونکي هیت- هغه ډله چي حق د رای او نظر لری ) له خوا کنترول او اداره شی او عام وګړی نظر په ټولنیزو چارو تر پښو لاندي شی.

د پلورالیزم کلمه د لومړی ځل د پاره په ۱۸۱۸ عیسوی کال په کلسیا کي استعمال شوه یعني ګډ اداره جوړول او په سیاسی لحاظ د پلورالیزم نظریی په ۱۹۱۹ عیسوی کال کي د مطلقي منفردي دولتی اداري پر ضد د یو سیاسی لار او لیک په توګه پیل شو تر څو چي په دولتی چارو کي نورو ډلو ته هم واک وسپارل شي او ملی مشارکت منځ ته راشی.

د پلورالیزم(تعدد پلوي نظریی) د تیوری اصول منل انسانانوته ښیی چي د مختلفو مذهبی ، سیاسی افکارو اوعقایدو او د لرلو سره کولای شي په ټولنه کي دقوانینو په رڼا کي په سوله ییزه توګه ژوند وکړي ، ترڅو چي د مسالمت آمیزه ژوند یا سوله ییزه ګډ ژوند اصول په ټولنه کي رعایت شي او ټولنیز او سیاسی ستونزې د پوهاوې او تفاهم له لارې حل شي.

د سیاسی پلورالیزم مقابل لوری دکتاتوری ده ، په ټولنه کي د سیاسی افکارو او عقایدو تحمیلول ، د زور زیاتی ، زور ویل او د زورواکی استبدادی دود او کلتور خپرول دي. د سیاسی افکارو او عقایدو تحمیلول د افرادو ، سیاسی ډلو یا دولت له خوا توتلیتر یزم ویل کیږی چي دهغه پایلي استبدادی ، انحصاری او تشدد پلوه فرهنګ په ټولنه کي خپریدل دي. که چیرې حکومت یا یوه سیاسی ډله خپل عقاید په ټولنه کي په زور تحمیل کړي او سیاسی واک یی انحصار کړي مقابل لورې هم د خپلو عقاید د فاع د پاره په زور او خشونت لاس پورې کوی او استبدادی کلتور د ټولني په ټولو اړخونو کي یعني ټولنیز ، سیاسی،اقتصادی او مذهبی چارو کي ناوړه اغیزه کوي کوم چي د ثور د کرغیرني کودتا څخه ورسته زموږ په ټولنه کي دود شو.

د سیاسی پلورالیزم د اصولو پر بنسټ هیڅ تبعه ، سیاسی ډله او یا ګوند نباید د هیواد د سیاسی برخه لیک څخه بې برخه شي. البته د ملی خیانت او جنایت قضیی باید د محکمي له لارې د قوانینو په اساس حل شی نه د سیاست په ډګر کي ترڅو چي یوه سیاسی ډله بله سیاسی ډله له میدانه ونه باسي.

په ټولنه کي تضاد او روغه تل پاتي بهیر دی او په هم دغه بهیر کي ټولنه وده کوي او نوی پدیده (د پیښي وقوع) د زوړ پدیدي په وړاندي دریږی نو له دي کبله نوی افکار او عقاید هم په ټولنه کي دغه برخه لیک سره مخامخ دی او دا د متمدني ټولني د زغم او تحمل تیوری (پلورالیزم) ده چي نه پریږدی ټولنه د تشدد سره مخامخ شي.

د دي دپاره چي ټولنه د انارشی سره مخامخ نشی باید په ټولنه کي یو اصل یا پرنسیپ په عملی توګه په ټولنه کي پلي شی چي هغه اساسی قانون دی چي د یوه ملی تړون یا ملی میثاق په توګه د هغه په رڼا کي ټول مدنی قوانین جوړ او د عمل په ډګر کي پلي شي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

له هغه ځایه چې په یوه متمدنه یا ملی شوی ټولنه سیاسی ګوندونه په ټولنه کې د سیاسی دینامیزم (تحرک-ځوځښت) پوټانسل ( قوه – موتور) جوړوی که چېرې دا ګوندونه په ټولنه کې د سیاسی ثبات د ټینګښت دپاره د سیاسی پلورالیزم په اساس ګده هڅه ( تشریک مساعی) ونکړي ټولنه د ټکر او کورني جګړې په لور خوځیږی او د سیاسی زغم او تحمل فرهنګ له منځه ځي ، خشونت د ټولنې د فرهنګ یوه اساسی برخه ګرځي او زوروالا کمزور نفی کوي. د بیلګې په توکه او دخلق او پرچم د زور واکۍ نظام پایلې د زور واکي کلتور خپرول په افغانی ټولنه کې ؤ چې تر نن پورې دوام لري.

د سیاسی پلورالیزم بل اصل یا بنسټ په سیاسی او ټولنیزو چارو کې د قانون په رڼا کې مشارکت او نژدیکت دی ، نه نفی او تردید د متضادو افکارو پربنا.

د سیاسی پلورالیزم په بهیر کې ملی ګټو ته لوړتیا ورکول د فردی او ګوندي ګټو په پرتله د متمدنې ټولنې ستر اصل جوړوي او هغه ډله چې ملی کټو ته پام نه کوی باید د سیاسی بهیر څخه وشړل شي نولازمه ده چې ملی ګټې باید په اسا سی قانون کې روښانه او په معیاری ډول تعرف ولری.

په درنښت


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de